آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۸/۱۲

# د خوشحال خان ختک آثار

## دستار نامه، دویمه برخه

### خوشحال پوهنه

### ۲۷

**چي دستـــار تــړي هــزار دي**
**د دســتـــار ســـړي په شمار دي**




د خوشحال د هنرونو او خصلتونو د شمیر په برخه کي استاد صدیق روهي بل ډول نظر لري. استاد روهي په لنډ ډول ویلي دي چي: «د خوشحال په نظر دغه شل خصلتونه او شل هنرونه د ټولو خصلتونو او هنرونو مجموعه نه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

ده، بلکي يوازې لازمي شرايط دي...» (روهي، څېړندوی محمد صديق، ادبي څېړنې، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۶ل ـ ۲۰۰۷ ز کال، ۲۹۷ ام مخ)

او په بل ځای استاد روهي هم د استاد نورزي په څېر استدلا کړی دی او ويلي يې دي:«که څېرې موږ د دستارنامې شل هنرونه او شل خصلتونه پر خوشحال باندې تطبيق کړو داسې ښکاري چې خوشحال «د دستار سړی» دی. په پښتن کې د شل هددد کمال سمبول دی. مثلاً په اصطلاح کې ويل کيږي: «بې له ما بې شل نه کړې» يعنې بې له ما يې پوره نه کړه. يا دا جمله د متل په توګه ويل کيږي: «هيڅا نه ده شل کړی» يعنې هيڅ انسان خپلو ټولو هدفونو او آرزوګانو ته نه رسيږي؛ نو له دې امله سړی بايد؛ نو خوشحال هڅه کړې ده، چې خپل ځان له خپل اخلاقي ايډيال سره عيار کړي او ځان د کمال حد ته ورسوي. د ده له ژوند پيښو څخه ځرګنديږي، چې هغه لږ تر لږه د ژوند وروستی برخه دستار ته وقف کړې وه، يعنې د پښتون د عزت او وقار، نوم او نښان او د خپلواکی د ساتنې او د افغانانو د ملي دولت د تاسيسولو له پاره يې پر له پسې مبارزه کوله.» (روهي، څېړندوی محمد صديق، ادبي څېړنې، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۶ل ـ ۲۰۰۷ ز کال، ۳۰۱ ـ ۳۰۲ مخونه)
خوشحال په دستارنامه کې خپل قهرمان او خپل ايډيال شخص يعنې «د دستار سړی» انځور کړی دی او د هغه ټولې ځانګړنې يې په نښه کړې دي. استاد صديق روهي د خوشحال همدې قهرمان ته لکه خپله خوشحال «د دستار سړی» وايي او د خوشحال اخلاقي ايډيال يې بولي. استاد روهي وايي:

«خوشحال خپل اخلاقي ايډيال په (دستارنامه) کې ښودلی دی او هغه ته «د دستار سړی» وايي. دا ډېر موزون او مناسب نوم دی؛ ځکه چې له يوې خوا په پښتني قبيلو کې دا دود دی کله چې يو نوی قومي مشر يا خان د خلکو له خوا وټاکل شي، د هغه پر سر «پګړی» يا «پټکی» تړي او د پټکي له تړلو نه وروسته خلک هغه ته تبريکي ورکوي. له بلې خوا په پښتنو کې «پټکی» يا دستار د عزت او وقار سمبول دی. ډېر ځله پښتانه په محاوره کې وايي: «تر هغې به پټکی پر سر نه کړم، تر څو چې دا يا هغه کار مې سر ته نه وي رسولی» (روهي، څېړندوی محمد صديق، ادبي څېړنې، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۶ل ـ ۲۰۰۷ ز کال، ۲۹۶ ـ ۲۹۷ مخونه)

په دغو شلو هنرونو او شلو خصلتونو کې ځينې داسې مهم هنرونه او خصلتونه شته چې همدا اوس هم د مشرانو له پاره ، په تېره سياسي مشرانو له پاره په اداري او سياسي ژوند کې دومره مهم دي لکه په ژوند کې چې اوبه اړينې دي. لکه دولسم هنر د اولاد د تربيت،

## «دولسم هنر د اولاد د تربيت»

« اولاد يا زوی يا لور، خو چې عورتينه په فرزند ډکه شي، نور يې تربيت لازم شي. حامله عورتينه دې درونډ بار نه اخلي، تر لوړ دې نه ترپلي، بادګين طعام دې نه خوري، لکه مار، مزری مهيب څيز دې په ستر ګو نهګوري، چې زړه يې ور ته وشي، هغه څيز دې زر وخوري.
غم، غصه، جنګ، ژړا دې نه کا، چې په دا څيزونو کې چې مسطور شول، که برعکس يې وکا، د فرزند د زيان کولو ډار دی...» (خټک خوشحال، دستارنامه، پښتو ټولنه، ۱۳۴۵ کال،۶۵ ام مخ)

د نر او ښځې د نه توپير او برابرۍ په برخه کې لا هغه وخت خوشحال د اوسنيو نظرياتو په څېر د هلک يا جلۍ د زيږيدو په برخه کې خپل نظر داسې ځرګند کړی دی:

«... د زوی په زوکړه ښادي، اما د لور په زوکړه هم دلګيري نه بويه، خدای زده چې بخت برکت په کوم کې دی او همدا لونه دي چې مردان ترې پيدا کيږي. که واړه زوی وي، جهان به خراب شه... اول چې لور وزيږي، لا مبارک وي... لکه د زوی تربيت لازم دی مينه پرې بويه، هسې په لور مينه بويه، بلکې لونه لا حقداره دي...» (خټک خوشحال، دستارنامه، پښتو ټولنه، ۱۳۴۵ کال،۶۶ـ ۶۸ مخونه)

د ماشوم د ليک لوست د پيل کيدو له پاره يې هم پام اړولی دی او د دستارنامې په همدې دولسم هنر کې يې د ليک لوست د پيل کيدو او له ماشوم سره د چلن په برخه کې يې داسې ويلي دي:

«... چې د څلورو کالونو شي، څلور مياشتې څلور ورځې، په لوستن دې کينوي... د سبق هم چې استاد لره ورشي، په اول سبق دې وبخښل شي، معلم دې ورسره هنر کا چې آزار يې نه کا، د ده په زړه دې ورسره چليږي... تمام عمر که د تحصيل په کار کې تيريږي، سعادت دی او که نه دا هومره چې وکښل شول، دا خو دې وي... د هلک زړه لکه سپين کوره کاغذ هسې دی، هر چې پرې وکاږې، هغه حرف پرې پريوزي، د اشرارو د صحبت اثر پرې وشي، اشرار شي، چې د اخيارو د صحبت اثر پرې وشي، اخيارشي...» (خټک خوشحال، دستارنامه، پښتو ټولنه، ۱۳۴۵ کال،۶۷ ام مخ)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

خوشحال خان دستار نامه په زندان کي پر ۱۰۷۶ هـ ق ـ ۱۶۶۵ م کال په داسي حال کي وليکله چي هيڅ ډول کتاب او مآخذ ته يي لاسرسی نه درلود. که څوک د ستارنامي يو څو مخه ولولي، د خوشال د حافظي قوت او د مطالعي وسعت سمدلاسه ور ته جوتيږي.

د خوشحال آثارو ته چي پام وشي هر لوستونکی پوهيږي چي خوشال په څلور ژبو پوهيده:

**ـ پښتو (مورنی ژبه يي وه)،**
**ـ دري (اشعار يي په کي ويلي دي)،**
**ـ عربي (دوه کتابونه پښتو ته ژباړلي دي)،**
**ـ هندي.**

ده په خپلو آثارو په تيره دستارنامه کي څلورو واړه يادي ژبي کارولي دي.
استاد پوهاند ميرحسين شاه د خوشال د پوهي او مالوماتو په باب د خوشال د فراقنامي په يوه چاپي مقدمه کي داسي ليکلي دي:

«... باين ترتيب خوشحال خان را نه تنها بايد شاعر بزرگ شمرد و به زبان پښتو منحصر دانست، راست است که غالب آثارش را په پښتو نوشته و کليات اشعارش به اين زبان ميباشد، اما حتی در ديوان او ميتوان اشعار نغز دري، که از خود اوست، يافت. و در آثار ديگر وي، به خصوص دستارنامه نقل قول های از شعرای بزرگ زبان دري و کلام بزرگان عرب يافت. ترديدي نيست که خوشحال خان از ادبيات دري بهره کافي داشت و به زبان و ادبيات عرب آشنا بود. وسعت معلومات وي در علوم اسلامي از آثارش روشن است...»
(خټک خوشحال خان، فراق نامه، د راحت زاخيلي د زوکړې د سلمي کليزې په وياړ د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي خپرونه، ۱۳۶۳ کال، د پوهاند ميرحسين شاه مقدمه، هـ ـ و مخونه)

خوشحال په نظم او نثر دواړو کي تا نوي خبري کړي دي او دا يوه ثابته خبره ده چي خوشحال داسي مبتکر انسان و چي له خپلي زماني نه يي وړاندي خبري کولي. يو مثال يي په دستار نامه کي دولسم هنر کي د حاملة ميرمني ساتنه او پالنه ده دويم يي په همدې هنر کي د اولاد د تربيي او روزلو کړنلاره ده. يو تر ټولو ستر نوښت يا ابتکار يي په هغه وخت کي مخفف نويسي وه چي په نوره نړي کي ډير وروسته را منځ ته شوه. استاد روهي ليکي: «خوشحال د (زنځيرى) په نامه د مختصر نويسى يوه طريقه ايجاد کړې وه، مختصر نويسي (Stenography) يا ستينوګرافي په لويديځ د صنعت او تخنيک له پرمختګ سره ترويج شوه او د وخت د صرفه جويى له امله يي عموميت پيدا کړ. خوشحال د زنځيرى په ايجادولو سره ثابته کړه، چي ده د راتلونکي ژوند اړتياوې هم پيژندلی شوې.» (روهي، ځيرندوی محمد صديق، ادبي ځيرني، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۶ل ـ ۲۰۰۷ ز کال، ۳۰۶ ام مخ)

په همدې نږدې لنډو وختو کي مبتکر شاعر او قلموال ګران غفور ليوال په خپله فيسبوک پانه کي د خوشحال د دستارنامي د مهموالي په باب داسي وليکل:

«د شخصيت جوړوني لپاره مو، چي د ستر خوشحال خان (دستارنامه) تلپاتي اثر د سيمي يو شمير ژبو ته ژباړلي واى .
په ټينګار يي وايم، چي دستارنامه د پيدا ګوڅيکي ارواپوهني، روزني، ټولنپوهني، اخلاقو، مديريت او شخصيت جوړوني يو بې جوړې اثر دى، چي د سياست هر شوقي ځوان يي بايد خامخا يو ځل ولولي.»

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ